# Pakhtoonkhwa پښتونخوا

## دپښتنو ټولنیز ولسولیز ګوند خپرونه




## ۱۲ مه ګڼه ۱۹۹۳ کال

Jahrgang./Vol.:1993 Nummer/No.: 12

**PASCHTUNCHWA / PASHTOONKHWA**
**ORGAN DER SOZIALDEMOKRATISCHEN PARTEI DER PASCHTUNEN**

# ORGAN OF THE PASHTOONS SOCIAL DEMOCRATIC PARTY (PSDP)


www.pashtoonkhwa.com

pashtoonkhwa@gmail.com

psdp@gmx.net

**V. I. S.P. / RESPONSSIBLE FOR CONTENTS:**

DR. KABIR STORI

Richardstr.5

5047 WESSELING  GERMANY


## Editorial Board/Redaktion


ALI KHAN MASEED

HIDAYAT BANGASH

MUBARIZ  SAPI

GULGHUTAI KUNARAI

AZIZ SARSHAR




سرلیکونه او لیکوال


| | | مخ |
|---|---|---|
| پښتنه تولنیزه اولسولی | (هدایت «بنګښ») | ۱ |
| خبرتیا | | ۷ |
| د تاریخ یوه پاڼه | (علی‌خان «محسود») | ۸ |
| ادبی محفل | | ۱۲ |
| غزل | (لطیف «اپریدی») | ۱۲ |
| لمبی | (محمداجان «یار») | ۱۳ |
| پاخیزه پښتونه وبوونکی | (نسیم) | ۱۵ |
| مناجات | (مبارز «ساپی») | ۱۶ |
| دپلار او خوی مرکه | (عزیز «سرشار») | ۱۷ |
| توی زړی خبریال | (محمدحسن «نور») | ۱۹ |
| د حرم د باغ ګلونه | (ناصر «یار») | ۲۳ |
| د ژبی تهری او بمنی | (ستوری) | ۲۴ |
| هدا اوس هم چه افغانستان کښی د روسانو | | |
| طرح شوی پلان ته کارکیږی | (عطا محمد «شیرزی») | ۲۷ |
| خبرتیا | | ۳۰ |
| پښتانه د بنلیلاک په ورانوی | (غلام نبی «سخی») | ۳۱ |
| هر څوک دی خپلی دندی سپینلی وګڼی | (محمدشرین «پردیوال») | ۳۳ |
| علم او قلم | (ایمل خان «میرداد خیل») | ۳۵ |



خپرونکی: د پښتنو تولنیز اولسولیز ګوند
پښتونخوا / افغانستان

HERAUSGEBER: SOZIALDEMOKRATISCHE PARTEI DER PASCHTUNEN
PASCHTOONCHWA / AFGHANISTAN

PUBLISHER: PASHTOONS SOCIAL DEMOCRATIC PARTY
PASHTOONKHWA / AFGHANISTAN



زمه وار: د وکتور کبیر ستوری

V. I. S. P.:
RESPONSSIBLE FOR CONTENTS:

DR. KABIR STORI
Richard Str. 5
50389 Wesseling
Germany
Tel. (02236)83463



د خپرونی جرګه
REDAKTION
EDITORS BOARD

علیخان محسود ALI KHAN MAHSOOD
هدایت بنګښ HIDAYAT BANGASH
مبارز ساپی MUBARIZ SAPI
ګل‌غوټی کونړی GULGHUTAI KUNARAI
عزیز سرشار AZIZ SARSHAR

# پښتنو ټولنیزه اولسولي

هدایت «بنګش»

د پښتني ټولنیزې اولسولي تاریخ د پښتنو د ټولنیزو اولسولیزو غوښتنو تاریخ دی او د پښتنو د ټولنیزو اولسولیزو غوښتنو تاریخ بیا د پښتنو د ملي آزادۍ د غورځنګ تاریخ دی چې په ۱۹۲۹ کال کې د انګلیسي ښکیلاک پر ضد په مقابل کې د فخر افغان باچاخان (عبدالغفار خان) په مشرۍ منځ ته راغی په بره پښتونخوا (افغانستان) باندې د روسي پوځونو د یرغل وروسته په پښتونخوا او بهر کې د دې غورځنګ یو شمیر پلویانو د یو ګوند د جوړیدو ضرورت ولید. د اوږدې تیارۍ او یو بل سره د تماسونو وروسته د ۱۹۸۱ م کال د جنورۍ د میاشتې په لومړۍ نیټه د پښتنو د ټولنیز اولسولیز ګوند د جوړولو پریکړه وشوه. او د ډاکټر کبیر ستوري ترمشرۍ لاندې یوه جرګه کې ته چې مهم سړي یو نه (شخصیتونه) لکه لیاقت «وطنپال»، علي خان «محمود» او استاد عبدالقدوس «تندر» وو. دا دنده ورپه غاړه شوه چې د ګوند منشور ولیکي. د دغه ګوند منشور په پښتونخوا او بهر کې د پښتنو د ملي آزادۍ د غورځنګ د پلویانو لخوا تائید شو او د ۱۹۸۱ م کال د فبرورۍ د میاشتې په ۲۷ نیټه په یوه بشپړ- ایښودونکې غونډه کې ومنل شو او د ګوند جوړیدل اعلان شو. د ټولو پښتنو د یووالي او آزادۍ د ګوند په توګه د پښتنو ټولنیز اولسولیز ګوند د ډاکټر کبیر «ستوري» ترمشرۍ لاندې خپلې ګوندۍ چارې په ځګنده توګه مخ په وړاندې روانې کړې.



د پښتنو ټولنیز اولسولیز ګوند د یو داسې ټولنې د جوړیدو هڅه کوي چې هر څوک پکښې په آزادانه توګه د خپل شخصیت ته وده ورکړي. او د انسانانو په خدمت کې د ټولنې په سیاسي، اقتصادي، او کلتوریز ژوند کې برخه اخلي. پښتونولي، ټولنولي او ولسولي د پښتنو د ټولنیز اولسولیز ګوند تهداب جوړوي.

پښتونولي او ټولنولي د ولسولي (دموکراسي) پواسطه چې ګډ خوي ئې دی یو د بل پورې تړلي او نه بیلیدونکي دي. پښتونولي په ولسولیزه ټولنولۍ کې او ولسولیزه ټولنولي په پښتونولۍ کې پیاوړې او بشپړیږي.

آزادي، عدالت (انصاف) او وروروولي د پښتني ټولنیزې — ولسولۍ غوښتنې دي له دې کبله پښتانه ټولنیز اولسولیوالان هر ډول امیرولي (دیکتاتوري) مطلقه ټولواک یوګوندیزه حا- کمیت نه مني چې د انسانانو آزادي او حقوق له منځه وړي.

د پښتنو ټولنیز اولسولیز ګوند د انګریزانو په مقابل کې د باچاخان ترمشرۍ لاندې د ملي آزادۍ د غورځنګ په نتیجه کې د نورو منځ ته راغلو ګوندونو لکه عوامي نشنل پارټۍ، پښتونخوا قومي پارټي او د پښتونخوا ملي عوامي پارټۍ له دې کبله نظریاتي یووالي او اړیکې لري.

د پښتنو ټولنیز اولسولیز ګوند لوی مرکز په پښتونخوا کې دی او د ټولې پښتونخوا په ګوټ ګوټ کې ډلګۍ، ډلې، ټپې او پرې په کار او فعالیت بوختې دي. سربیره پر دې د پښتونخوا بهر هم په مګړو هیوادونو کې یو شمیر مسلکي او د علاقو ټولنې لري او د ګوند او یا



د ګوند د غړو ټولنو په نوموړو رفتونه لري.

د پښتنو د ټولنیز اولسولیز ګوند بنسټي ارزښتونه دا دي:

( ) د پښتنو او د پښتنو د وطن پښتونخوا ویش سوله په خطر کې اچولی دی. د سولې د ټینګولو د پاره د ټولو پښتنو یووالي او د پښتون د خپل خپلواک هیواد (سټیټ/دولت) پښتونخوا جوړونه د پښتنو د ټولنیز اولسولیز ګوند تر هر څه مهمه تر ټولو ستره دنده او بنسټي غوښتنه ده.

۲) د پښتونخوا د هیواد (سټیټ/دولت) واک به د اولس په لاس وي. د دې د پاره په کار دي چې پښتونخوا د پښتنو د اولسي ویش، جغرافیائي او اداري اسانتیاو له مخې په سیمو (سوبو/ایالتونو) وویشل شي او هره سیمه بیا په لویو اولسوالیو (ضلعو) او اولسوالیو (تحصیلونو) وویشل شوې وي.

هره سیمه (سوبه/ایالت) به ځانته سیمه ایزه جرګه (سوبائي/ ایالتي جرګه) او سربیره پر دې به د پښتونخوا یوه ملي جرګه — (قومي جرګه) او بله د مشرانو جرګه (سینټ) وي.

د سیمې (سوبائي/ایالتي) جرګه د خپلو غړو څخه د سیمې (سوبائي/ایالتي) حکومتونه او ملي جرګه (قومي جرګه) به د خپلو غړو څخه مرکزي حکومت ټاکي.

د مشرانو جرګه (سینټ) به د سیمو (سوبو/ ایالتونو) د حکومتونو د مشرانو او د هرې سیمې (سوبې) د وګړو په حساب د سیده ټاکل شوو نماینده ګانو جوړه شوې وي.



د ملي (قومي) او سیمه ایزو (سوبائي/ایالتي) جرګو په پریکړو به غوړ کوي او جمهور رئیس به نوموړو ته تائید د پاره به ئې لویه جرګه راغواړي.

د ملي او سیمه ایزو جرګو غړي به په ټولو کې اتیا د اولسوالیو په حساب د اولسوالیو د وګړو له خوا په سیده توګه د آزادې ټاکنې د لارې او په ټولو کې شل د هغه ګوندونو د لارې چې به ټولو کې پنځه رائې ګټلې وي په غیرې سیده توګه ټاکل کیږي.

د پښتونخوا هر اوسیدونکې چې عمر ئې د اتلس (۱۸) کلونو څخه کم نه وي د رایو ورکولو حق لري چې یو به ګوند او بل به کاندید ته ورکوي خو خپله د ملي او سیمه ایزو جرګو د پاره هغه ځان کاندیدولی شي چې عمر ئې د دیرشو (۳۰) کلونو څخه کم نه وي.

۳) د پښتنو ټولنیز اولسي ګوند د خپل سپیڅلي دین اسلام د پرمختګ او ټینګښت د پاره هڅې ځلي کوي او د نورو دیني عقیدو ته په درنه سترګه ګوري.

٤) ژبه او کلتور د قام او وطن په آبادۍ کې مهم رول لوبوي. له دې امله د پښتنو ټولنیز اولسي ګوند د خپلې ژبې او کلتور وده او پرمختګ خپله بنسټي دنده ګڼي او غواړي چې د هیواد درې واړه قوې (قانون جوړونکې، اجرائیه او عدلیه) د پښتونولۍ په بنسټ ولاړې وي او د پښتنو د جرګو پریکړې رسمي خوی پیدا کړي.

۵) د تولید په وسایلو خصوصي ملکیت ژغورولو او تقویه کولو حق لري تر هغو چې عادلانه ټولنیز نظم څخه ونه نیسي. د اقتصاد او خصوصي ملکیت د اسې تقویه کول په کار دي چې د یوې خوا د کار ځایونه پیدا شي او د بلې خوا وطن صنعتي وګرځي خو-

صنعت به په ټول وطن کښې خور او ور وي او مرکزي بنه به ونه لري.

٦) هر څوک مجبور دي چې هیواد ته د خپل عاید په اندازه محصول ورکړي.

٧) کار د پښتونخوا د هر اوسېدونکي حق دی او هیواد د خپل وس سره سم د کار د پیدا کولو ذمه واري په غاړه لري. هغه ځای چې کار نه پیدا کېږي او یا د کار توان نلري د هیواد له خوا د مرستې ور سره کېږي چې ګذاره پرې وکړي.

٨) د پښتو ټولنیز اولسولیز ګوند د انسانانو ژوند او انساني درناوي ته تر هر څه زیات ارزښت ورکوي او غواړي چې ټول انسانان مساوي حق ولري او هیڅوک د مرګ په جزا محکوم نه شي او هم په غیر انساني توګه جسماني او سادوال (نفسي، روحي) ونه ځورول شي.

٩) ټولنیز امن او د ژوندانه د هر ډول ستونځو سره ګول او په تېره بیا د انسانانو د لومړنیو اړتیاوو پوره کول د پښتو ټولنیز اولسولیز ګوند غوښتنه ده.

١٠) پوهنه د پښتونخوا د هر اوسېدونکي بنیادي حق دی او په معیاري پښتو ژبه به وي. پوهنه باید ده چې هر چاته د دې امکان ورکړي چې خپل استعداد ته بې د کوم خنډ څخه وده ورکړي.
په پوهنه کې ډېره پاملرنه مسلکي ښوونځیو او زده کړې ته به کار ده ځکه چې د یوې خوا د مسلکي زده کړې په واسطه وطن اباد ېدلی شي او د بلې خوا هر سړی د خپلو پښو ودرېدلای شي. د لسم ټولګي پورې زده کړه جبري ده او چارې د مرکزي حکومت په غاړه دي.
پوهنیزه څېړنه باید چې د مرکزي حکومت له خوا غښتلې شي او نتیجې یې د عوامو په خدمت او د ټولنې په وده کې راوستل شي.



١١) د فکر نظریو مظاهرو جلسو او انتساب آزادۍ، بې د رنګ، نسل، مذهب او د امتیاز څخه د پښتني ټولنیزې اولسولۍ بنسټي غوښتنه ده.

١٢) خپرونې، مطبوعات، راډیو، ټلویزیون او فلمونه عامه دنده اجرا کوي. دوی باید ده چې په آزادانه او ناپیلې توګه د پښتني دود او دستور سره سم په هر ځای کښې معلومات راغونډ او په خپل مسؤولیت خپاره کاندي.

١٣) د ګوندونو او ټولنو د جوړولو، د کار او فعالیت آزادي د پښتو د ټولنیز اولسولیز ګوند غوښتنه او د هیواد بنسټي دنده ده. خو رسمي ګوندونه هله کمزول کېدلی شي چې د پښتونخوا د یېمه-ایزې یا ملي جرګې په ټاکنه کښې په سلو کښې ٥، و ټونه ګټلي وي.

١٤) د پښتو ټولنیز اولسولیز ګوند د خپلو غړو کسبي او نورو علایقو ته ډېر ارزښت ورکوي له دې امله د خپل ګوند د مختلفو ټولنو لکه د بزګرانو، مزدورانو، کارګرو، ترکانانو پښانو (لوهاړانو) قصابانو، موچیانو، نایانو، دوبیانو، کولالانو، طبیبانو، حقوق پوهانو، ښوونکو، لیکوالو، پوهېدنکو او نورو د جوړولو هڅه کوي او یوه د «ځوان پښتون» په نامه ټولنه لري. د دې ټولنې غړي د ګوند بیالګي دي چې په ١٨ کلنۍ کښې د ګوند غړیتوب ترلاسه کولی شي او دېرش (٣٠) کلنۍ پورې د ټولنې او ګوند غړي پاتې کېدلی شي او د دېرش کلنۍ څخه وروسته بیا یوازې د ګوند غړي دي.

١٥) د خپل وطن پښتونخوا ازادۍ دفاع او ساتنه د پښتو ټولنیز اولسولیز ګوند غوښتنه او د پښتو دنده ده.



وسله وال پوځ او لښکو به خاصا د ملي جرګې د کنټرول او د حکومت د لاس لاندې وي.

١٦) د پښتو ټولنیز اولسولیز ګوند د نړۍ د ټولو ټولنیزو اولسي ګوندونو د ټولو ټولنو حکومتونو او خلکو سره د نږدې اړیکو هڅه کوي.

١٧) د پښتو ټولنیز اولسولیز ګوند د ملګرو ملتونو د مؤسسې او د ټولو اولسونو د خود ارادیت او خپلواکۍ د حق دفاع او ملاتړ کوي او استعمار په کلکه سره غندي.

١٨) د پښتو ټولنیز اولسولیز ګوند د نورو وروڼو قومونو سره د ازاد خود ارادیت د لارې د پښتونخوا اتحادي جمهوریت جوړول غواړي.

## خبرتیا

د روان کال د نومبر د میاشتې په دولسمه نیټه د ډیورنډ کرښې تړون د اعتبار غورځېږي. د پښتو ټولنیز اولسیز ګوند دغه نېکمرغه ورځ د پښتو د یووالي ورځ اعلانوي.

او په هیواد کښې د ننه او بهر د ټولو پښتنو څخه هیله کوي چې د پښتو دیووالي دغه ورځ د زړه په مینه سره ونمانځي. په دې لړکې په المان کښې د پښتو د ټولنیز اولسولیز ګوند له خوا نه د پښتو دیووالي دغه ورځ په شاندارو مراسمو سره نمانځل کېږي -

په دغه هکله د ټولو هیوادوالو څخه هیله کېږي چې خپل نظرونه او وړاندیزونه ژر تر ژره د پښتونخوا د مجلې په پته راواستوي.



## د تاریخ یوه پاڼه

لیکوونکی: علي خان مسعود

دغه هغه وخت وو - چې دوهم نړیوال جنګ په زور شور سره نښتی وو. نازي پوځونه په روس ور ننوتي وو جاپاني پوځونه د مشرق بعید نه یورپي استعماري پوځونه په شا کړي وو نو هند کې د پرنګي سره غم شو چې اوس به څه چل کېږي دوی کانګرس په جیل کې اچولي وو باچاخان او نور خدائي خدمتګار زنداني وو. مسلم لیګیان د جاپان د مخالفې نه وو نو دوی د جاپان په خلاف د یو بل محاذ د جوړولو کوښښ شروع کړ.

دوی (١٩٤٢ - ١٩٤٣) کښې د افغانستان سره خبره وکړه چې که موږ د جاپان نه ماته وخوړه نو پښتانه او بلوڅ به موږ تاسو ته ورکړو او بیا ئې تاسو د جهاد په نوم هند کښې د جاپانیانو پر ضد وجنګوئ. دې ته ظاهرشاه چمتو شوی وو. مګر دده تره وزیر اعظم هاشم خان سره غم وو چې باچاخان خو ډېر لوی قوت دی د دې به څه چل کېږي. نو پرېکړه ئې وکړه چې د خدائي خدمتګارو او باچاخان خلاف باید افغاني قبائلي ملکان او ورسره د پرنګي قبائلي ملکان، پیران، ملایان ګډ کار وکړي او پښتانه د دوی نه بېزاره کړي تر څو چې د پرنګي افغاني منصوبه ته لاره سمه کړي. د دې متحده محاذ مشري د لوی اسان حاجي ترنګزو مرحوم زوی مباغلي باچاګل په غاړه واخیسته دوی د باچاخان او خدائي خدمتګارو خلاف کار شروع کړو په دې دوران کې ستالن ګراد کښې هټلري نازي پوځونو د سور پوځ نه ماتې وخوړه او د جاپانیانو حملې د برما نه مخکې را نغلې نو پرنګیانو خپله منصوبه بدله کړه. ظاهرشاه او باچاګل ئې په خامې پرېښودل

داځکه چې جنګ د پرنګي، روس او امریکې په خیر ختم شو مګر د
پرنګي ملا داسې ماته وه چې نور یې هند ساتلی نه شو په
هند کې کانګرس ډیر قوت نیولی وو او شمالي او جنوبي پښتونخوا
کښې بلوڅ او پښتانه د باچا خان د کړاو په وجه ویښ شوي وو.
اوس پرنګي حیران وو چې څه وکړي اول خو یې د دوي د منصوبه
دغه وه چې هند متحد پاتې شي خو ورته دغه خطره هم
وه چې که چیرې هند متحد پاتې کیږي نو هر و مرو واک د
کانګرس او خدائي خدمتګارو په لاس ورځي او بل اړخ ته د دوي
پوخ کامیابي دوي وار خطا کړي وو نو ځکه یې سوچ کولو
چې که چیرې موږ هند تقسیم کړو نو د روس او کمونیزم
ډیر زیات خطر دی او په دغه سیمه کښې کمونیزم او روس دوي ته تر کانګرس
نه ډیر خطرناک وو مګر بل سوچ یا پالیسي د دوي د چین
متعلق وه د دوي خیال وو چې چین لوی قوت دی باید
موږ د چین د روس او کمونیزم خلاف د کانې شک تر مشرۍ لاندې
تیار کړو چه د پانګه والې نړۍ ګټې به ساتي خو هند ته ضرورت
نشته چې متحد پاتې شي پدې وخت کې د چیني قوم پرستو او
چیني کمونیستانو ترمینځ خونړۍ جنګونه روان وو د مغربي دنیا
او خاصکر د برطانوي خفیه جاسوسي ادارو رپوټونه وو چې
چین کښې د دوي مکګوي جنرال کانې شک جنګ ګټي او دا امکان نشته
که سبا ماوزې تنګ ماتې خوري او د کامیابۍ امکان یې نشته
نو ځکه پرنګیانو زړه وکړ ۱۴ اګست ۱۹۴۷ کې یې هند تقسیم
کړو نو که سړي ورته ځیر شي نو ۱۹۴۰ نه تر ۱۹۴۷ پورې مسلم-
لیګیانو قسما قسم غوړې خوړلي دي د پاکستان صحیح تعریف یې نشو
کولی چه پرنګي به د تقسیم اشاره وکړه نو دوي به ګوم مثول چې
اشاره به د متحده هندوستان وه نو دوي به رویه بدله کړه
دغه جګ نیت ځکه راڅرګند وو چې پرنګي بڅپله د هند په مستقبل واضح
نه وو نو چه څه وخت یې تسلي وشوه چې چین کښې ماوزې تنګ



- نه کامیابېږي نو بیا یې د هند د ویش فیصله وکړه نو د مسټر جناح
رویه هم سخته شوه مګر د خدائي خدمتګارو نه ګوره چې ۱۹۴۶ع
کښې د دوي مکرهه کانې شک ماتې وخوړه او چین سور شو.
د دوي د خفیه ادارو رپوټونه غلط ثابت شول مګر اوس او په
په ورځ پېري وي که چیرې دوي پوه وای چې چین کښې کمونیزم راځي
نو داسې به هیڅکله هند تقسیم کړی نه وو د هند په تقسیم باندې
مسلم لیګیانو او هندي کمونستان دواړه ګروپه راضي وو او د
پاکستان د جوړولو د پاره کمونستان جیلونو ته لاړل خصوصاً -
فرق دومره وو چې مسلم لیګیانو د هندو او مسلمان په نوم د نبي بل د
خود ارادیت حق په بنسټ باندې د هند تقسیم کولو د کمونیستانو دا خیال
وو چې لوی هندوستان کې دوي انقلاب نه شي کولای چه نوټي ټوټې
شي نو بیا انقلاب اسان دی. چې دغه د دوي خیال پلو وو نو ځکه
دوي د پاکستان د پاره جیلونو ته ولاړل چې د بې وقوفۍ حد دی
د روس هم دغه خیال وو چې متحده هندوستان به ډیر لوی
قوت وي نو سره ده چې تقسیم شي.
چې څه وخت کانګرس د هند د ویش منصوبه قبوله کړه نو د باچا خان
مرحوم او خدائي خدمتګارو د پاره هیڅ لاره او ګودر پاتې نه شو چې
مکګوري په ډکو پرنګي ته او نورو پرنګیانو ته پرېښودل نو پرنګي د
خدائي خدمتګارو نه د بدل په اخستو بوه عجیبه منصوبه جوړه
کړه چې دوي د خلقو په سترګو کښې بې قدره او بې عزته کړي
نو وائي د هند او پاکستان په نوم باندې د تش په نوم رای -
شمارنه (ریفرینډم) چېغه پورته کړه چې هیڅ منطق یې نه
درلوده داځکه چې کانګرس خو تقسیم منلی وو نو د ریفرینډم
څه ضرورت وو او د خدائي خدمتګارو او باچا خان مرحوم سره
یې غداري کړې وه نو څرنګه به پښتنو د هند په حق کې ووټ
ورکولو هسې هم ۱۹۴۶ کښې انتخابات د پاکستان او هندوستان
په بنیاد شوي وو چې خدائي خدمتګارو اکثریت ګټلی وو



مګر ۱۹۴۷ کې هندوانو د خود غرضۍ نه کار واخیستو د هند
تقسیم یې قبول کړو چې دغه عمل د خدائي خدمتګارو سره بې وفائي
او خیانت وو نو ځکه باچا خان ورته ووئیل چې رای شماري ته
ضرورت نه دی ولې پدې چې پښتانه مسلمان دي نو دوي هیڅکله
هند ته نه ځي پدې باندې پرنګیان او مسلم لیګیان ښه پوهیده
د دوي مطلب او مقصد تش د خلقو په سترګو کښې د دوي بې عزته
کول وو خو هیڅ نه. نو باچا خان ورته تجویز وړاندې کړو چې که
تاسو هرو مرو رای شماري کوی نو د پاکستان او هند د نوموړو
د پښتونستان نوم هم کیږدئ چې اوګورو چې پښتانه چیرته ځي
مګر دوي داسې چیرته کول ولې پدې چې داسې خو د دوي سکیم (پلان)
نه کامیابېده نو ځکه باچا خان ورته ووئیل چې د هند او پاکستان
فیصله شوې ده نو موږ د دې نوې نکاح نه ترو که شوق مو وي نو سره
خوره دغه ده چې د پښتونستان په نوم دې رای شماري وشي
او که دغه نه وي نو موږ د پاکستان او هندوستان تر دوم
لاندې رای شماري کښې ګډون نه کاوه او بائیکاټ یې کاوه هم دغه
سبب دی چې هندوانو خو عمداً ورکړې وه نو د پښتو
ماڼۍ خراب وو چې هند ته یې رایې ورکړي وائي او بله خوا
یعنې پښتونستان موجود نه وو.


«د تاریخ پاڼه»
لیکوونکی علي خان «محسود»





# ادبي محفل

## غزل

لطیف «اپریدی»

په رندو سترګو نظر وایه د چا
یا الرم دی یا خوړلي اژده ها
فقیري لره حاجت د سودا نشته
د فقیر بازار همیشه وي بې سودا
کند کچکول د ملنګۍ که بیرغ نه وي
دا به هم مې وي درکړې صدقه
د فقیر په ژبه هیڅ دروغ نه سازی
خدایه هسې شومه زه ولې رسوا
زه د مینې لیونتوب وته حیران یم
څه په خپلو وینو رنګ شولي لالا
غیو بیولي «اپریدي» ناست دی یوازې
جنازه شوه تر بینه پاتې د بابا

# لمبې

محمدجان «یار»

سرې لمبې د اور لګیږي کور په کور
څه به کیږو په هیواد کښې زموږ نور
***
په درنو سپکو سلاوو وطن وران شو
سوی سکور د جنګ په اور افغانستان شو
غچیل منځ کښې مره خسکک د دښمنان شو
په یوبل باندې د غه قاتلان شو
د دښمنانو ګروه اوږده ورته لاسونه
شو روان پکښې د سرو وینو رودونه
اچولي ئې خپل منځ کښې افغانان دي
نړیوال ئې تماشې ته ټول حیران دي
پښتانه پکښې راپریوتل سکور
څه به کیږي په هیواد کښې زموږ نور
* * *
پرګښې د اولس لاړلې خوري شوي
هر ځای جوړې د خوارانو هدیرې شوي
نه څوک شته دي په بانډو اووسېدونو
اوراخیستي ري یو شانې سمې او غرونو
د وحشي غونډي یو بل ته غوریدل دي
په یوبل د جنګ حملې دي راپیول دي



غوزیدل ولاړیدل او پرزیدل دي
د هرچا لاس چې په چا برشي وژل دي
د وحشت فضا خوره ده سمه غرو کښې
فریادونه دي سګګي دي په درو کښې
رحم نشته سیني ډکې شوې له کانو
کره کړي عاطفو د انسانانو
زوره ور اولس چپلوی پکښې خپل زور
څه به کیږي په هیواد کښې زموږ نور
* * *
سبه پوهیږو چې په څه باندې دا جنګ دی
ورور د ورور او پلار د زوی په وینو رنګ دی
قرباني د څوکسانو د قدرت ده
بده ورځ په نورو خلکو د قیامت ده
په تاریخ کښې هسې نشته چې دا کیږي
چې طالب دي د جمات نن پاچا کیږي
ځئ چې لاړ شو نور مزار د خوشحال خان ته
وکړو غږ احمد شاه او میرویس خان ته
چې پګړې د پښتون ولویده د سره
نن پښتو مړه شوه شوې لړه او بره
مونږه شولو اولس د هرچا د پیغور
څه به کیږي په هیواد کښې زموږ نور



# پاځیږه پښتونه

ویوونکی: نسیم

پاځیږه پښتونه! نن د قام او قامولۍ وخت دی
پریږده تربګني د اتفاق او ورورولۍ وخت دی

وګوره قامونو د دنیا ته چې ازاد شولو
واک ئې خپل راخپل کړلو خپل وطن کې ښاد شولو
خپل جنت وطن کې پښتانه خوار او برباد شولو
واک اختیار ئې نشته وږي تږي بې سواد شولو
دا حال بدلول غواړي نوي کښې د سیالۍ وخت دی
پریږده تربګني د اتفاق او ورورولۍ وخت دی

دا پښتنه خاوره پښتنو مونږ نه پښتو غواړي
ننګ غواړي غیرت غواړي میړانه دینکو غواړي
بیا د خیبر سر کښې جګول سر د شملو غواړي
نور د خوشحال خان توره تیره په شرنګیدو غواړي
جوړه پښتونخوا کړه د قومي او لسولۍ وخت دی
پریږده تربګني د اتفاق او ورورولۍ وخت دی

اوس چې مونږ پانه څو «ستوري» وائي چې ورکیږو مونږ
بیا که چیرې پاڅو نو منزل ته نه رسیږو مونږ
نکړې انتظار د وخت کاروان تږي پاتې کیږو مونږ
پاځیږه پاځیږه دي کاروان سره مل کیږو مونږ
نور خیالونه پوچ دي د پښتو پښتونولۍ وخت دی
پریږدئ تربګني د اتفاق او ورورولۍ وخت دی
پاځیږه پښتونه نن د قام او قامولۍ وخت دی

«ستوري»



# مناجات

مبارز «ساپي»

خدایه نه کړې بیا ځلانده په هر ول — دا زمونږ د پښتني پیغلې اوربل
هر چیرې او هر ملا او هر عالم مو — پوه په مینه د پښتو کړې په دا ځل
خدایه نه کړې بیا ځلانده په هر ول
دا زمونږ د پښتني پیغلې او ربل
هر بوډا، هر زلمی او هم ماشوم مو — په خوږو د ژوندانه سره کړې مل
بیا مو وخاوی سیمه او سمسوره کښې — هغه ښکلي پلازني جرګو وستل
بیا تاریخ ته ئې مخ روښن کړې خاونده — ګوم چپله سیمه ایښې مودي پل
تا نه غواړي ای خاونده په ښه شانې — پدې زمونږ کوډګي کړې زمونږ اوږدونه بل
د پښتون اولس په بیا ودانېدنه — اغیزمنه کړې دا هڅه دا تشکل
نه چپله ژغوره تل د هر تاړاکه — دا زمونږه هر اغلی هر اتل
زمونږ ملي کړي د غښتلي په د ښنو — پدې کار کښې په یقین نه په اشکل
ښه سمسور او ښیرازه ئې لري تل بیا — دا زمونږ هره ټپه او هر یو تل
د هیواد په مینه ئې ولړه رنګین کړه — بیا زمونږ هره سندره هر غزل
له کسانه له بدله امان غواړو — پښتانه دي تباه شوي په بدل
پښتنه کړې شعوري پوه او بیداره — ددې سیمې د اغیارو په هر چل
په څپو کښې لاهو ښه دې ننګیه — تا ورکړې پښتنو ته دا مثل
پت ښکنه ننګ توره او وسپاهم — ده «ساپي» د هر یو مل سره کړې مل

یادونه: د مناغلي امان الله «عاجز» شعر زمونږ لاس ته رانه رسید په راتلونکې خپرونه کښې به خپور شي.

## د پلار او زوی مرکه (په الماني کښې) عزیز "شار"

پلار:
وخت د پښتو راغی ملا دی وتړه بیدا شه   ای پښتون ځلمیه

زوی: * لاس میش دو الاینه ته د خپلی پښتو زار شه
** شایزی په قرار شه شایزی په قرار شه

پلار:
خپل کلتوری پریښی خو د بل ته رسیدګه نه شی
تګ که کړی د زړګی خود زاغه بد لیدی نه شی
ننګ او غیرت ونډ کړی لزمی پوه ته په اظهار شه   ای پښتون ځلمیه

زوی: دلته اروپا ده د غربي موزیک سازونه دی
ستا وطن کښې څه دی سپیری دښتی او خر غونه دی
بریک دانس چې شروع شی توره شپه به ماسهار شه
شایزی په قرار شه شایزی په قرار شه

پلار:
خپله ژبه ښه وی سری د روند ښځیل لباس کې وی
ورک دی شی هغه چې ژوند ئې تل د بل په لاس کې وی
ځان پښتون زلمی کړه د پښتو د باغ مالیار شه   ای پښتون زلمیه

زوی: وایمه پښتو نارو د غومره تکلیف کوم
بار د پښتو دروند دی ځان نو ځله پرې ضعیف کوم
*** شو یفه دی پښتو د مانه څنګ ځه په کنار شه
شایزی په قرار شه شایزی په قرار شه



پلار:
مشر کش نه پیژنی څومره تیټه تهذیب لری
بویس دی په مغزو کښې خوشته بیا هم ځان ادیب ګڼی
یو پښتنی بیغلی نه تش تا سی ځلمی زار شه   ای پښتون ځلمیه

زوی: ستا فیصلی ګرانی اوس ځپله فیصله کوم
دلته اروپا کی ګومی ښځی سره واده کوم
**** چوس زه درنه لاړم خوشته پوه می په اقرار شه

پلار:   شایزی په قرار شه شایزی په قرار شه
ونکړی واده چې د ا ښځی خو مکاری دی
بوکوڅه کښې ګوره چې د خوګسانو یاری دی
فکر د سبا وکړه تصمیم کی دی هوښیار شه   ای پښتون زلمیه

* الماني لفظ دی چې معنی ئې ده تماشه آرام پریږده
** " " " " چې معنی ئې ده چټیات مه وایه
*** " " " " چې معنی ئې ده پیچلی
**** " " " " " چې معنی ئې ده د خدای په امان



## الوتی زیری   خبریال: محمد حسن "نور"

ویسبیلنګ: د روان کال د مارچ د میاشتی په پای کښې نسیم بی بی جرمنی ته د یو رسمی دولتی سفر لپاره راغلی وه. نسیم بی بی د خپل سفر په لړ کښې د پښتنو د ټولنیز اولسولیز ګوند د مشر ډاکټر کبیر ستوری د مشرانو د جرګې د غړو او د نورو غړو سره لیدنه کتنه وکړه. او بیا دی توځ کښې ئې د پښتنو او د سیمې په حالاتو خبری اترې وکړې.
نسیم بی بی ته د پښتنو د ټولنیز اولسولیز ګوند لخوا د بیا راتګ بلنه ورکړی شوه چې د نسیم بی بی لخوا د غه بلنه ومنل شوه.



په عکس کښې د پښتنو د ټولنیز اولسولیز ګوند مشر ډاکټر کبیر ستوری، حاجی فضل الرحمن او هدایت الله "بنګش" او نسیم بی بی لیدل کیږی.



کلن: د پښتنو د کلتوری ټولنی لخوا د ۱۹۹۴ کال د اپریل د میاشتی په درعه نیمه د کلن په ښار کی یو کلتوری ماښامی جوړ شوی وو چې کښې شمیر هیواد والو ګډون کړی وو.




"په تصویر کښې د کلتوری ماښامی یو ځنډه لیدل کیږی"

ماښامی د پښتنو د کلتوری ټولنی د مشر محمد شیرین "ګردیوال" په وینا سره د ماښام په شپږو بجو پیل شوی د غه ماښامي کښې د موسیقی سربیره د ملګرو لخوا د ادبی محفل تر عنوان لاندې ښکلی شعرونه او شنالی ولوستلی شوی چې بیدی ګهه کښې ئې غوره شعرونه د ادب مینه والو ته وړاندې کیږی.
ماښامی د حاضرینو د شور او زوګ سره د ملي اتڼ په وړاندی کولو د شپې په یوولس بجو پای ته ورسید.

## ګلن:

د ۱۹۹۳ کال د مۍ د میاشتې په ۶ نېټه په جرمنۍ کې د پښتون سوسیال دموکرات ګوند د ښځو د ټولنې د مشرې پلوشې «زماني» د ریاست لاندې د نوې تاکلې لپاره غونډه وشوه. په غونډه کې د ښځو د ستونځو او په هیواد کې دننه د ښځو د حقوقو په اوسنیو حالاتو د پلوشې زماني له خوانه رڼا واچول شوه. او ور پسې نورو ښځو د خپلو مشکلاتو او وطن کې د ښځو د حقوقو په هکله خبرې وکړې.

څرنګه چې غونډه د نوې تاکنې لپاره راغوښتل شوې وه په دغه ترڅ کې پلوشې زماني «د ټولنې د مشرۍ د دندې نه استعفا وړاندې کړه او د دغه ځل لپاره یې ځان کاندید نکړ. د ښځو په خوښه په نوې تاکنه کې ښاپیرۍ د نوې مشرۍ په توګه، پلوشه زماني د مرستیالې، نجلا غوتۍ «کوټړې» او شپږ تنه نورې د مشورتي مشرانو په توګه وټاکل شوې.

## ګلن:

د ۱۹۹۳ عیسوي کال د مارچ د میاشتې په دیارلسمه او څوارلسمه نېټه د اروپايي کمپنیانو لخوا نه د ګلن په ښار کې د راتلونکې سیاست او حالاتو په هکله په اروپا کې یو کنګرس جوړ شوی وو چې د بهرنیو ملکو څخه ورته ډېر استازي راغلي وو. دغه کنګرس ته د پښتون سوسیال دموکرات ګوند استازي هم بلل شوي وو چې د ګوند مشر «اکرم ستوري» او یوې ډلګۍ په دغه کنګرس کې برخه اخیستې وه.



## وسیلینګ :-

د پښتنو د ټولنیزو او ولسولیز ګوند مشر ډاکټر کبیر ستوري وویل چې:

د ډیورنډ د تړون د اعتبار موده سږ کال ختمیږي ځکه چې د انګریزانو تړون یو سل کاله اعتبار لري.

ستوري زیاته کړه چې د ډیورنډ تړون هیڅکله پښتنو نه دی منلی او په عمل کې د ډیورنډ کرښه چې د پښتنو په وجود تېره شوې ده پښتنو نه ده مراعات کړې او یوازې د کاغذ پر مخ کرښه پاتې شوېده څو د روان کال د نومبر د میاشتې په دولسمه نېټه د ډیورنډ د تړون د اعتبار موده پای ته رسیږي او دغه کرښه د کاغذ په مخ هم د اعتبار لوېږي او د منځه ځي.

ستوري وویل چې د پښتنو ټولنیز او ولسولیز ګوند چې د پښتون اولس یو نماینده ګوند دی د نومبر د میاشتې دولسمه نېټه چې د ډیورنډ کرښه پکښې د کاغذ پر مخ هم د منځه ځي او د پښتنو یووالي بېرته منځ ته راځي د پښتونخوا د قومي مشرانو او ګوندونو سره یو ځای د پښتنو د یووالي د ورځ په توګه اعلانوي او لمانځي یې.

د پښتنو د یووالي وروسته د پښتنو د خود ارادیت حق زموږ د ګوند بنسټي غوښتنه ده چې پښتون اولس خپل راتلونکې په ازادانه توګه پخپله وټاکي.

پښتانه چې ژوند یې د خپل عنعنوي سیستم پښتونولۍ په واسطه سنبال شوېدی په یوه خپلواکه او ازاده پښتونخوا-



کې کولای شي چې په سیمه کې د ټینګښت او امن تضمین وکړي.

د پښتنو خپلواکي او د پښتونخوا جوړېدنه کوم بېلتون غوښتونکی ګام نه دی. پښتانه یو سوله دوست قوم دی د سیمې او نړۍ د نورو قومونو سره د خپلو ګډو علایقو په بنسټ اوږه په اوږه ګامونه اخستل غواړي او د ګډ ژوند د مختلفو بڼو په یوه بڼه کې لکه د «آسیین د ټولنې» په شان په سوله او ارامۍ کې ژوند کولی شي.

### د حرم د باغ ګلونه

«ناصر یار»

رنګ، قتیل، بیناچې سره یوځای شي
شعر کې ګلونه د حرم کړي

رنګ، قتیل، بینا نه یوازې په بره پښتونخوا کې په شعر کې د باغ حرم ګلونه کړلي دي. بلکې د پښتو ډرامو پلرونه هم دي. دوی د لومړي ځل د پاره په ښوونځیو کې په تېره بیا د ننګرهار په لیسه کې پښتو ډرامې رواج کړې په هغه وخت کې د ښځو رول په ډرامو کې هلکانو لوبولو چې د ښځو جامې به یې اغوستلې وې. دې کار د خلکو زیاته پاملرنه ځان ته راړولې وه.

ټول پښتون له قندهاره تر اټکه
سره یو د ننګ په کار پټ او اشکار



## د ژبې څېرې او بڼې «ستوري»

ژبه د انساني ټولنې د ودې او پرمختګ بنسټ جوړوي او یوازې د پوهېدلو آله نه ده بلکې د فکر یوه بڼه ده بې له ژبې څخه فکر منځ ته راتللی او لوېدلی نه شي.

ژبه درې څېرې یا بڼې لري: د غږ ژبه یا ګړېدنه، بې غږه ژبه یا د جسماني اشارو او حرکتونو ژبه او د لیک یا انځورونو ژبه.

۱) د غږ ژبه یا ګړېدنه: د غږ ژبه یا ګړېدنه د ټیټو څخه جګو ته په څلورو برخو وېشل شوېده چې هره ټیټه برخه یې د خپلې جګې برخې ځانګړې ده.

۱.۱) ګړ: د ګړېدنې تر ټولو کوچنۍ برخه ده. پښتانه وایي چې پلانکي سړي ماته ګړ هم نه شي کولی یعنې هیڅ راته ویلی نه شي.

رښتیا ګړ ځانته او ګوښي هیڅ دی او هیڅ معنی لرلی نه شي خو ګړونه که په یوه ټاکلي ګړندیوالي یو د بل پسې راشي نو بیا غږ جوړوي. د ګړونو مجموعې نه چې د غږ په ټاکلي ګړندیوالي سره نه وي غوړېدنه وایي چې د ژبې تخګینې بڼه ده (۱)

۲.۱) سیلاب: سیلاب کم ناکمه د دوو ګړونو څخه د ټاکلي ګړندیوالي په بنسټ جوړ شوی غږ دی لکه غ، کب، ور او نور.

۳.۱) نوموونه یا لغتونه: دیوه یا څو سیلابو څخه جوړ شوي غږونه دي.

۴.۱) جملې: د څو نوموونو یا لغتونو څخه جوړ شوي غږونه دي.

داچې داسې بانګونو ته په دوران کښې لوېږي او د افغاني جامعې په ضعيف اقتصاد باندې لا نور هم ناوړه اغېزه کوي ډېر اوږد بحث دی خو دومره باید ووېل شي چې دا ناوړه اغېزه په عام اولس باندې مستقيم اغېز لري. په دې اشپو ورځو کښې چې د افغانستان واقعات پر نازک حالت ته رسېدلي دي چې لازمه ده د بېخوا پېښتان د تول ملکت نه د بنه او حسنی د سبه لوم با صلاحيته اشخاص د بهرنه د لوی جرګې غړي راوغوښتل شي ترڅو د لولو په خوه سره يوه د حل مناسبه لار ولټول شي او د افغانستان د بيا جوړښت د پاره يو مناسب عبوري زمامداران وټاکل شي چې په ټاکلې موده کښې زمينه برابره کړي چې انتخابات وشي. لزاوس د مغرضو او د دسيسه کارو عناصرو له خولو داسې آوازونه اوريدل کېږي چې د لوی جرګې پر ځای يوه د اهل حل وعقد شورا راغوښتل کېږي چې دا نوم د ټول افغانستان د خلکو په وړاندې ( يعنې د حل، اهل وعقد په نوم ) بېخي نا آشنا او نه پېژاندل شوی نوم دی ماد خپل او يا کالو په عمر کښې چې ډېرې لوی جرګې مې ليدلې او په ځينو کښې مې ګډون هم درلود دا نوم نه دی اوريدلی دا که لوم عربي نوم يا اصطلاح وي موږ په عربي الفاظو کښې هغه اوامر منو چې د خدای امر په قرآن شريف کښې او يا د نبوي په احاديثو کښې راغلي وي.
چې دا هغه د ترخېلو محترم مولوي صاحب چې يو لوی ديني عالم دی د وفاد مجلس سره په مرکه کښې واضح کړې هغه ويلي «چې دا لفظ نه قرآني دی او نه په احاديثو کښې راغلی.»
نو واضح او روښانه خبره خو دا ده چې د افغانستان د دښمنانو او ګلتورې ورکاوي د پاره د افغانستان خارجي او داخلي د ښمنان په هلو ځلو کښې دي يو وخت د لوه شيطاني ايتلاف په ذريعه پرچمي بېرګي جنرالانو او په ټول افغانستان کښې د ميدنام ګلم جم سره د کودتاه په واسطه د ملي چارې ترلاسه کوي او کله په يوه او بله بهانه د خپلو قدرت موده او زوروي خو افغان اولس به د خدای په فضل په ميړانه د د غو ناروا د نسايسو عناصر مخه نيسي او خائنان به خ لوړن کېږي.



د ليوږني مغوين ليکوونکي عطا محمد «شيرزی» د خان لالا محمد افضل خان او د پښتو د لو ليز او لسوليز د کو نه د ستر کبير ښتوری» سره ليدل کېږي.



پښتون کور
Paschtun Kor

خبرتيا!
د ټولو درنو پښتنو د خبرتيا لپاره:
د زمانې د تونډو سيليو او تاراکونو نه، د پښتونولۍ د سوچه پښتنو د خوندي ساتلو په هکله په «بن» کښې د «پښتون کور» په نامه د يوې پښتنې ټانګې د بنسټ ايښودلو سره د پښتونولۍ په نامه هم د يوې خپرونې د خپرولو په کار باندې هلې ځلې کيږي.
لدې کبله، ددې ټانګې کارکوونکي د هغو ټولو پوهو او ليکوالو نه هيله لري چې د پښتونولۍ د آساساتو په هکله خپلې غوره او سوچه خپرنې او معلومات په دې لاندې پته راستوې.
او د پښتونولۍ د خپرونې د خپرولو په لياره کښې لا زياتې مرستې وڅښنې.

په درناوي
د مشرانو د جرګې لخوا

Zentrum für kulturelle und soziale Betreuung der Paschtunen in der Bundesrepublik Deutschland e.V.
Postfach 301143 - 5300 Bonn 3 - Tel. 0228/659806
Bankverbindung: Sparkasse Bonn (Beethovenplatz) - Kto. 14851042 - BLZ 380 500 00



# پښتنانه د ښکيلاک په وړاندې

غلام نبي «سخي»

پښتون سوله غوښتونکي اولس دی چې د موږ په لرغونو قلمونو کښې ثبت شوې کيږي. دا قام په داسې يوه خاوره کښې پروت دی چې درې او ښکلې غرونه لري او د هند دروازه ګڼل کيږي.



ددې کبله ښکيلاکي ځواکونو دا قام په آرامه نه دی پرېښودلی او د خپلو يرغلونو ښه ئې ګرزولی ده. هر يرغلګر چې د پښتنو خاورې ته په بد نيت سترګې اړولې دي - پښتو غابني ماتوونکي ځواب ورکړی دی.
ددې واقعيت بېلګه د پښتنو په لوی تاريخ کښې د لوی سکندر، مغلو، انګريزانو او روسانو يرغلونه دي. موږ دلته د روسانو په يرغل لږه رڼا واچوو. کله چې په ۱۹۷۹ کال کښې روسانو د پښتنو (افغانانو) په خاوره يرغل وکړ نو د افغان اولس د سخت مقاومت سره مخامخ شول د هيواد په ګوټ ګوټ کښې ملي پاڅونونه پيل شو. افغانان ګاونډيو هيوادونو ته لاړل ترڅو چې خپل مامونان د روسانو د بريد ونو نه په امن کښې کړي او خپله د روسانو په مقابل کښې د جګړې لپاره ځانونه چمتو کړي. خو له بده مرغه په ګاونډيو هيوادو نو کښې د دوی په سر باندې ملايان کېنول شول. او د جګړې په اوږدو کښې د لويديځو ځواکونو لخوا هم همدغه ملايان چې په خپل اولس کښې بنسټ نلري تقويه او مصنوعي



مشران وګرځول شول. ملي او دموکراتيکو ځواکونو ته که څه هم د جګړې د روند بلو ئې په تشولاسونو سره په اوږه اخستلې وو پاملرنه ونه شوه. د روسانو د وتلو وروسته د منګولو منتونو د مومنسي د سولې پلان پلي شو د غه پلان د پرچميانو او جمعيت د ډلې لخوا شنډ شو چې په نتيجه کښې په ۱۹۹۲ع کال د اپريل د مياشتې په پای کښې ملائي رژيم په کابل کښې په قدرت راغی. او ځينو مخو کښې ئې د قدرت د ويش له کبله په جګړو او اختلافونو پيل وکړ.
چې اوس د کال نه زيات موده کيږي چې دوی په دی نه دي بريالي شوي چې خپل اختلافونه د منځه يوسي. دا چې دوی ځينو مخو کښې اختلافونه حل کولای نه شي نو د افغان اولس غوښتنو او هيلو ته هم ځواب ويلی نه شي.
نو په کار ده چې په هيواد کښې د ډېرکونديزې د موکراسۍ - (ولسوالي) له لارې سوله او امن د ډاډ ور شي.



ترهغه چې لر او بر پښتانه يو ځای شوي نه وي نه لر پښتون او نه بر پښتون د عزت مقام موندلای شي.

خان لالا محمد افضل خان

# هرڅوک دی خپلی دندی سپیځلی وګڼی

محمد شیرین ګودیوال،

زمونږ ګران او د ویاړه ډک هیوادچی نن ورځ په کومه بدبختی کښی پروت دی او خپل راتلونکی ته ئی ګران هیوادوال لاس تر زنی ناست دی او ګوری چی څه تماشه کیږی. زما په فکر سړی ته داسی بریښی چی په افغانستان کښی ډیر بااحساسه او زمه وار خلک او انسانان او داسی انسانان چی د دغه ورانو کښو والو، تعمیرونو، سړکونو، لارو، نهرونو او د اجتماعی لوړوالی او ابادی خوګه وی وجود نلری. سوال پیدا کیږی چی افغانستان پدی وروستیو ۱۴ کالو کښی کومی ډ وغږ وخوړی ددی په تفصیل ډیر بحث نکوم، خوپه لنډ ډول بعضی ټکوته اشاره کول غواړم چی په اوسنی وخت زما په فکر چی دغه ګران او زړه ته نژدی ټاټوبی څنګه سړی په اوسنی حساس او بحرانی حالت کښی د بدبختی او نابودی د مرحلی نه یو اجتماعی، مخ په وړاندی د موکراتیک حالت ته راورسوی چی ټولو خلکو ته د باور وړ یو سیستم او مرحله دی.

داپورتنی خبره خو ډیره علمی او ګرانه ده لیکن زه غواړم چی د دغو بدبختیو علتونه په غیر د بهرنی دښمن نه په کورنی دښمنانو کښی هم ولټوم. ځکه ددی نه چی اساسی عینی خبری او لفتونه شروع کړم او سړی پری بحث وکړی، غواړم چی وړی خبری شروع کړم او هغه داچی که نن افغانستان وران شویدی او بهرنیو لاسونو پکښی کافی ګوتی وهلی دی خو دا نن هرچاته معلومه ده د بهرنه کوم ممالک په افغانستان کښی ګوتی وهی، ددی نومونو ذکر په هرځای کښی شوی دی او زه ئی مناسب نه ګڼم چی بیا بیا تکرار شی، لیکی په یوشی ډیر تعجب کوم او هغه داچی ماته بهرنی قدرتونه یوه معنی لری او خپله اولس او ملت زور بله معنی لری.



په بهرنی قدرتونو نه غواړم چی خبری وکړم لیکن خبره داده چی نن کوم خلک زمونږ په ګران او کښو واله وطن کښی د کومو بدبختیو او تکلیفونو سره مخامخ دی ددی لپاره څنګه لاری چاری سړی سنجولی شی.

زما په فکر د ټولو نه مهمه او اولنی خبره دا ضرور ده چی هر بااحساسه او زمه وار پښتون افغان د ځانه دا پوښتنه وکړی چی زما برخه زمه واری او دنده په کوم ځای کښی پرته ده او یا زه نن دیو با شعوره افغان او پښتون په صفت حاضر یم چی د وطن د دغه ورانو کښو والو په ابادیدو کښی برخه اخلم او که نه.

هرڅوک دی خپل ګریوان ته سر وا چوی او سوچ دی وکړی چی د دغو بدبختیو اخره نتیجه به څه وی.؟

خو زما خپله تجربه ده او هغه داچی نن افغانان او پښتانه په عوض ددی چی د اجتماعی احساس، د وطن د ابادیدو، راتلونکو نسلونو ته د زمه واری په لحاظ یو څه فکر وکړی او مسوولیت په غاړه واخلی نن د خپلو ذاتی ګټو او مفاداتو په خوند اخته دی. زه دا نه وایم چی څوک دی کارنکوی او ټول وخت دی تنها تنها سیاست او د وطن اهمو دندو ته وقف کړی او یا دی خپل نور ژوند کاروبار پریږدی او بس همدا نغاری او نغاری دی وهی چی ژوندی دی وی وطن، لیکن د خپل مصروفیت په څنګ کی اقلاً زمونږ وطن او خلک په مونږ حق لری چی د ۲۴ ساعتونو نه اقلاً یو ساعت د دغه ګران وطن او خلکو د پاره هم وقف کړو.

وطن پوازی په خبرو نه اباریږی بلکه د وطن لپاره قربانی، سازمان، منډی او هلی ځلی او ریښتینی وطن پرسته خلک په کار دی.

ځکه چی سړی د وطن حالات ګوری نو ماته داسی بریښی چی د وطن



روښفکران او تعلیم یافته طبقه یا خو ویده او یا ئی د خپلی زمه واری احساس لا تر اوسه نه دی کړی.

نو سوال دا پیدا کیږی چی څوک به وطن ساتی، او څوک به ئی ابادوی او څوک به ئی د پرمختګ خواته مخ په وړاندی بوځی

هرڅوک دی د خپل ځان نه شروع وکړی خپلی زمه واری او دندی دی سپیځلی وګڼی، خپل ټولنیز او سیاسی شعور دی راتحریک کړی او په ریښتیا دی خپل وطن ته د وفا داری وعده وکړی که دا مو ونه کړه نو بنیادی به مو هیڅ مات وی.

علم او قلم

بی لاسه بی قلمه زما علم نه دی خوښ

خنداچی پکی هم وی زما قلم نه دی خوښ

د علم په رڼاکی خلک اباد شو ابادیږی

د قلم په خنداکی خلک برباد شو بربادیږی

ډیوه د علم بله کړی د قلم لاس په سر شی

ایمل وائی قلم پریږدی د علم نه خبر شی

ایمل خان میرداد خیل



خان بابا ولی خان

لا به یو کیږو

کښتی

ورکیږو!




که سپوره وی که پوره وی په شریکه به وی

( باچاخان )

*Das Brot, ob belegt oder trocken, wird unter allen gemeinsam aufgeteilt*

*(Batscha chan)*

*Buttered or unbuttered bread will be common (Bacha Khan)*